# حامد کرزی


حامد کرزی

حامد کرزی د ۱۹۵۷ م کال د ډیسمبر پر ۲٤ نېټه زېږېدلئ دئ. پلار یې عبدالاحد کرزی نومېدئ چي د افغانستان د ملي شورا د ریس د معین (مرستیال) په توګه یې کار کړئ دئ. عبدالاحد کرزی په ۱۹۹۹ کال کي په جلا وطني کي د پاکستان د کویټې په ښار کي د نا معلومو کسانو له خوا و وژل سو.

کله چي حامد کرزی په کابل کي د حبیبیې د لیسې څخه فارغ سو نو د لوړو زده کړو د پاره هندوستان ته ولاړ. هلته یې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو په څانګه کي تحصیلات و کړه.

لومړنی اولاد یې د ۲۰۰۷ کال د جنوري پر ۲۵ نېټه نړۍ ته سترګي خلاصي کړې چي نوم یې میرویس کرزی دئ.

په ۲۰۰۱ م کال کي چي په امریکا کي د نړۍ د سوداګرۍ مرکز را و نړېد نو د امریکا حکومت دا کار د القاعدې له خوا و باله او داسي یې ویل چي د دې حرکت مرکز په افغانستان کي دئ او باید له منځه یوړه سي.

د دې د پاره چي امریکایان دغه مرکز د منځه یوسي ځکه یې د ۲۰۰۱ م کال د اوکتوبر په میاشت کي پر افغانستان بمباري پیل کړه چي په نتیجه کي یې د طالبانو حکومت د منځه یوور.

د ۲۰۰۱ م کال د ډیسمبر په میاشت کي د جرمني د بون په ښار کي د افغانستان په هکله یوه غونډه جوړه سوه. پسله ډیرو خبرو څخه د ډیسمبر په ۵ نېټه پرېکړه وسوه چي په افغانستان کي دي یو لنډمهال حکومت جوړ سي او د ۲۹ کسیزي کابینې مشر دي یې حامد کرزی وي. د ډیسمبر پر ۲۲ نېټه کرزی د لنډمهال حکومت مشر سو.

د ۲۰۰٤ کال په عمومي انتخاباتو کي کرزی د زياتو رايو د تر لاسه کولو په نتيجه کي د ډيسمبر په ۷ نېټه په انتخابي توګه د افغانستان د جمهور ريس په توګه و ټاکل سو .

